**لارښود**

مقدمه:

د 2018 کال په منی کې مونږ یوه پراختیایی پروسه پیل کړه چی هغه عبارت د مهاجرینو د ټولنی AZ Conni پرانستلو څخه ده

د کډوالو ټولنې د پرانستلو هدف ټولنیز ، سیاسي او کلتوري وړاندیزونه د یوې اداری لخوا وړاندی کول دی. په دې ډول سره مونږ غواړو چې هغه ټولنو او ګروپونو ته هم خپل پیغام ورسو چې هغوي مخکی دغه ډول معلوماتو ته لاس رسی نه درلود. مونږ د خپلې ټولنې جوړښتلو د ټولو برخه والو فعالیتونه مهم دي. د مهاجرت - ټولنیز آزادۍ تمرکز د مختلف واقعیتونو او شرایطو پیژندل او مشاهده کول دي چې د نابرابرۍ له امله رامینځته کیږي.

پدې پرمختیایی پروسه کې موږ د

(Landesarbeitsgemeinschaft politische-kulturelle Bildung Sachsen e.V.)

اداری لخوا حمایه شوې یو

کله چې مونږ د دغې ټولنې د جوړولو پریکړه وکړه نو اول مو د نژاد پرستی په اړه په یو لنډه مهالې کورس کې ګډون وکړاو له هغې وروسته دغې ټولنې په خپلو فعالیتونو شروع وکړه.

د دې په تعقیب ، موږ لاندې لارښوونې چمتو کړې چې په هغې باندې موږ غواړو خپل راتلونکې فعالیتونه اساس کړو.

زمونږ د ټولنې غړې له دې لارې اړمنو کسانو ته اساسي خدمات وړاندی کوي.

دې لارښوونو سره سم به مونږ د AZ Conni په مختلفو برخو کې مناسب اقدامات رامینځته او پلې کړو

دغه لارښونی (تر دې دمه ) د AZ Conni اصلې حالت نه تشریح کوي، بلکې دغه لارښوونې په آصل کې له مونږ سره په راتلونکو کلونو کې د مسیر په ټاکلو او پراختیا کې مرسته او کومک کوي.

دغه لارښونې زموږ چلند او زموږ انساني رویه منعکس کوي او زموږ د سیاسي بحثونه په

هغو موضوعاتو باندې رامینځته کوي چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په موږ او زمونږ په ټولنه اغیز کوي. همدارنګه دا زمونږ له پاره مهم ده چې دغو لارښونو او مقرراتو درناوی او ساتنه وکړو.

لاندې لیکل شوي شرایط په اړونده لغتونو کې په جلا توګه تعریف شوي.

:۱

## AZ Conni څرنګه پیژنو ؟

مونږ AZ Conni  د یو ازاد خیاله او سیاسی ځاې په توګه پیژنو چیرې چې مونږ یو له بل سره په درناوي چلند کوو.

AZ Conni

یو داسې ځاې دې چیرې چې خلک کولې شی خپلې سیاسی فعالیتونه تنظیم او پلان کړې او هم محاله په ټولنیزو  او کلتورې پروګرامونو کې برخه واخلې.

زمونږ په ټولنه کې د هر چا درناوی کیږی او مو همیش کوشش کوو چې هیڅ څوک په خپل چلند او یا هم خبرو سره زیانمن نه کړو.

:۲

## AZ Conni ته لاس رسې

مونږ همیشه دې ته توجو کوو چې زمونږ  جوړښتونه او پروسیجرونه شفاف او بلونکې وي.
همدارنګه په څو ژبو خبرې وکړاې شو تر څو مو پیغام په اسانه ډول معنا یا هم د پوهیدلو   وړ شي ددغه کار له پآره مونږ د متن او انځور ژبه کاروو..

په ټولو برخو کې ، موږ په دوامداره توګه تنظیمې ، جوړښتې ، ټولنیز او نورو خنډونو تحلیل کوو ، مخنیوی یی کوو او بیا یی له مینځه وړو.

:۳

## ځواکمنتیا او پیوستون.

زمونږ په ټولنه کې هر نفر د اړتیاۀ تبعیض ، ظلم او نابرابرئ پروړاندې حمایه کیږي.

موږ د ټولنیز ګوښه کیدونکو ډلو لپاره ځانګړي وړاندیزونه تنظیم کوو او د دوی سازمانې پروسو لپاره ځای چمتو کوو.
په کور  (ټولنه )کې ټول خلک - حتی هغه څوک چې لا تراوسه یی په وړاندې کوم  تبعیض نه وي شوې  - مونږ سره په دې پروسو کې مرسته کوي او مونږ حمایه کوي.

مونږ د ظلم ، تبعیض، او نابرابریو په وړاندې مختلف ګروپونه سره منسجم کوو او د ددغه پدیدو په وړاندې یو ځاې مقابله کوو.

مونږ غواړو چې په داسې یو ټولنه کې ژوند وکړو چیرې چې خلک په منابعو او همدارنګه تصمیم ګیرو کې مساوی حق ولري. بغیر له دې چې د یو چا اصل، د پوټکي رنګ او یا هم د ژوند طرز په نظر کې ونیول شي.

مونږ غواړو چې خپل سیاسی هدفونه ، هیلی او مقاصد په ګاونډ، ښار او خپله ټولنه کې پلې او
عملي کړو.

## :۴
## تنوع په AZ Conni کې.

AZ Conni
د ټولنیز تنوع او همدارنګه د ژوند بیلا بیلو واقعیتونو نمایندګي کوي. دا زمونږ له پاره مهمه ده چې هر چا سره په درناوي او د ستاینې وړچلند وشي.

موږ د ژوند د مختلفو واقعیتونو سره د مثال په توګه ، د جنسیت ، اصل ، عمر ، جنسي شرایطو، او ټولنیز اقتصادي وضعیت سره خلک حمایه کوو.

مونږ تنوع ته ښه راغلاست وایو ، او د ژوند د بیلابیل حقایقو او مسودو د انډول لپاره ولاړیو.

زموږ لپاره ، دا د ټولنې نه د ګوښه شوو خلکو د نظرونو استازیتوب کولو په معنی دي. په داسې کولو سره ، موږ ځان د پردی او هر ډول تبعیض پروړاندې رد کوو.

مونږ هڅه کوو چې خلک د ټولو توپیرونو سره سره زمونږ په ټولنه کې ځان پردې او یا هم بیګانه احساس نه کړي.

په دې برخه کې مونږ AZ Conni

د نظر تبادله کول ،خپل ځان منعکس کول او زده کړی د ځاې په توګه پیژنو.

.مونږ کوشش کوو چې د خپلې ټولنې په ټولو برخو تنوع ایجاد کړو

**:۵**

## د تبعیض او جنجالونو سره معامله کول

AZ Conniپه
مورږ په دقت او مستقل ډول د تبعیض قضیو سره معامله کوو او هڅه کوو چې شخړې په ګډه حل کړو.

د اداری په ټولو برخو کې مورږ د تبعیض ، بریدونو یا شخړو په قضیو کې حساس او ځواب ویونکي یو.

دا زمورږ لپاره مهم دي چې د هرډول تخریب سره مخالفت وکړو او د تیعیض په وړاندی کوټلي ګامونه اوچت کړو.

دا زمورږ لپاره مهم دي چې په تبعیض او د جنجالي وضعیت باندې ځانګړي تمرکز وکړو او په کډه او فعاله توګه د حل لارو په لټه کې وه اوسو. د دې لپارې مورږ باید د باور فرصتونه رامینځته کوو..

.مونږ د بحث کلتور ته وده ورکوو او همدارنګه په خپله ټولنه کې یوالی او تنوع ته  کار کوو

مورږ د جګړې بیلابیل وضعیتونه ته د خپلې ټولنې له پاره د زده کړې د امکان په توګه ګورو او دا نه یوازې داخلي بلکې په بهر کې هم منعکس کوو.

..مورږ په دوامداره توګه هڅه کوو چې د تبعیض او جنجالونو په وړاندې خپل چلند لا ښه کړو